مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
یکشنبه د ۱۳۹۹ د لیندۍ نهمه | د ۲۰۲۰ د نومبر ۲۹مه | ۶۳۶مه ګڼه

# د ارګ او ولسي جرګې اختلافات؛

## وکیلان: د ولسمشر غني په ګډون هېڅوک باید د سولې په لار کې خنډ جوړ نه کړي



۳

د قواوو که د افرادو ټکر؟ ۲ مخ

ایا یوویشتمه پېړۍ به د چین وي؟ (مناظره) ۲ مخ

د افغانستان- ایران اړیکي او د «اوبو سیاست» ۳ مخ

پوهنتون ۴ مخ


## نیستان د لوړو زده کړو خصوصي موسسه

د لوړو زده کړو د دې موسسې د محصلینو امر وایي، چې تمثیلي محکمه، د عملي کار لپاره څارنوالیو او محاکمو ته د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي محصلینو ببول یې له شته امکاناتو دي.




کرنې ریاست:

## روان کال د پکتیا د جلغوزو حاصلات لس سلنه زیات شوي



د پکتیا د کرنې ریاست چارواکي وايي چې روان کال په دغه ولایت کې د جلغوزو حاصلات له ۱۳ زرو مټریک ټنو اوښتي چې د تېر کال په پرتله لس سلنه زیاتوالی ښیي.
په ورته مهال د راپورونو له مخې، په یاد ولایت کې د جلغوزو د پروسس او بسته بندۍ د شرکت کارونه بشپړ شوي دي. د دغه ولایت د سوداګرۍ خونې مشر ناصر عالمیار وایي، چې په دغه شرکت کې زرو کسانو ته د کار زمینه برابره شوې او په کلني ډول به ٦٠ زره ټنه جلغوزي بسته بندي شي.
چارواکي وايي، که څه هم اوسمهال ګاونډي هېواد پاکستان ته د جلغوزو د قاچاق مخه تر ډېره نیول شوې، خو بیا هم یوه اندازه جلغوزي دغه هېواد ته په قاچاقي ډول وړل کېږي او پاکستان یې بیا په خپل نوم نورو هېوادونو ته صادروي.
دوی زیاتوي، په کور دننه د جلغوزو د پروسس د ورته مزکزونو په جوړېدو سره به دا ستونزه هواره شي.

امریکایي رسنۍ: **بایډن هم په افغانستانه کې د ځواکونو د شمېر له کمولو سره موافق دی**

نشنل انټرسټ خپرونې له افغانستان څخه د امریکایي پوځیانو ایستلو په اړه د ټرمپ پرېکړې ته په اشارې ویلي، په ټولیزه توګه له افغانستان څخه د امریکایي پوځیانو له وتلو سره که څه هم ډېری لوړپوړي امریکایي پوځیان موافق نه دي، خو اوس ټرمپ پرېکړه کړې او ځواکونه به وباسي. په راپور کې راغلي، د ځواکونو ایستلو مسئله له ولسمشر ټرمپ څخه بایډن ته ورپاتې ډالۍ ده.
په راپور کې راغلي، بایډن د اوباما په دوره کې هم په افغانستان کې د خپلو پوځیانو له اوږده ماموریت سره موافق نه و او نه یې غوښتل چې دغه هېواد ته تازه دمي سرتېري ولېږي او اوس هم ویل کېږي چې بایډن د پوځیانو له کمولو سره موافق دی، خو پر دې باور دی چې یو شمېر سرتېري باید له ترهګرۍ سره د مبارزې په موخه په دغه هېواد کې پرېښودل شي.
دا په داسې حال کې امریکا له افغانستان څخه د خپلو سرتېرو د ایستلو بهیر چټک کړی دی.
افغان او امریکایي چارواکي وايي چې په قطر کې د امریکا او طالبانو د موافقې له لاسلیکه وروسته امریکا په افغانستان کې خپلې لس پوځي اډې بندې کړې دي. امریکایي ورځپاڼو واشنګټن پوسټ او ستار انډ سټرایبس ویلي، سره له دې چې امریکا په افغانستان کې لس اډې تخلیه کړې، خو د ځواکونو د ایستلو بهیر یې مبهم او غیر یقیني ښکاري. ورځپاڼې وایي، امریکا په افغانستان کې خپلې اډې له طالبانو سره د کړې موافقې پر اساس د ټولو پوځیانو د ایستلو د پلان له مخې تشې کړې دي.

سره صلیب کمېټه:

## افغانستان لاهم د ملکیانو لپاره خطرناک هېواد دی



۵ مخ

طالبان: **کارشیوۀ مذاکرات صلح دو هفته پیش نهایی شده بود**



محمد نعیم، سخن‌گوی دفتر طالبان در دوحه می‌گوید که کارشیوۀ مذاکرات صلح، میان هیئت‌های جمهوری اسلامی افغانستان و طالبان چهارده روز پیش یعنی به تاریخ پانزدهم ماه نوامبر نهایی و تکمیل شده‌است.
آقای نعیم در تویتر خود نگاشته‌است که این کارشیوه بیست و یک ماده دارد و با کشور میزبان مذاکرات صلح نیز شریک ساخته شده است.
هفتۀ پیش، منابع به رسانه ها گفتند که هیئت‌های دوطرف به توافق‌هایی در این راستا دست یافته‌اند و معصوم ستانکزی، رئیس هیئت مذاکره کنندۀ جمهوری اسلامی افغانستان و سلام رحیمی، مشاور رئیس‌جمهور غنی در یک سفر اعلام نشده به کابل آمده بودند تا دربارۀ توافق‌های بدست آمده با آقای غنی مشوره کنند.
سپس، صدیق صدیقی، سخن‌گوی رئیس‌جمهور این گزارش‌ها را رد کرد و گفت که هیچ پیشرفتی در روند صلح دوحه صورت نگرفته‌است.
این در حالیست که مذاکرات میان هیئت‌های دو طرف در حدود دو و نیم ماه پیش در دوحه آغاز شدند. این مذاکرات، پس از یک و نیم ماه، به بن‌بست کشیده شدند.
اما با این حال هنوز هم میدان های نبرد در اکثریت ولایت افغانستان گرم است. در این نبردها افزون بر طرف های درگیر به غیر نظامیان هم تلفات وارد می شود.

Aksos Book Store
اکسوس کتابپلورنځی
کتاب مو د ژوند ملګری کړئ

Aksos
کابل دربیمه ناحیه، دهبوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
aksosbookstore@gmail.com

## سرلیکنه

# د قواوو که د افرادو ټکر؟

د ولسمشر د لومړي مرستیال او د ولسي جرگې د غړو ترمنځ پر یو بل له پرله پسې تورونو وروسته پرون ولسمشر د جرگې له اداري پلاوي سره وکتل. لانجه هغه وخت پیل شوه چې ولسمشر د کابل د امنیت ستونزې حل خپل لومړي مرستیال امرالله صالح ته وسپاره او ورو ورو پسې دا صلاحیت زیات شو. دا لانجه له هغه وروسته پراخه شوه چې امرالله صالح ولسي جرگه پر فساد تورنه کړه او جرگې یې پر وړاندې توند دریځ ونیوه چې تر اوسه پورې هم لانجه روانه ده.

په دې لانجه کې ځینې کسان د ولسي جرگې او ځینې بیا د ولسمشر د لومړي مرستیال ملاتړ کوي او پر حقه یې گڼي، خو د لانجې اساسي عوامل څه دي؟ دا رښتیا هم د مقننه قوې او اجرایه قوې ترمنځ ټکر دی او که د افرادو د گټو ټکر؟

د ولسمشر لومړی مرستیال واک ته له رسېدو سره سم هڅه کوي چې خپل سیاسي مخالفین وځپي او له همدې امله د هغو صلاحیتونو اخیستو ته تمایل لري چې پکې کولی شي خپلو سیاسي مخالفینو ته ضربه ورکړي. هغه له سیاسي مخالفینو سره په مخالفت، ضد او کینه کې مخینه لري او له خبرو او کړنو یې له دې کار سره لېوالتیا ښکاري. کله چې هغه ته د کابل د امنیت او بیا نور صلاحیتونه وسپارل شول، نو یو اصلي هدف یې دا و چې له دې لارې خپل مخالفین وځپي. البته دا په دې مانا نه ده چې د هغه مخالفین نو ستونزه نه لري، خو صالح تر ډېره دې چارې ته د سیاسي او شخصي مخالفت له زاویې گوري. صالح په دې لانجه کې څکه اوس برلاسی ښکاري چې یو خو حکومتي واک او زور لري او بل یې مخالفین په گڼو ناقانونه کارونو کې ښکېل دي. سیاسي مخالفین یې چې د نوموړي د کارونو او پروگرامونو مخالفت کوي، د هغو هم لامل دا نه دی چې گواکې صالح ناسم کار کوي یا د صالح کار د هېواد په زیان دی، بلکې د صالح کړنې د دوی مشروع او نامشروع گټو ته گواښ دي. په دې ډول د امرالله صالح او د هغه د سیاسي مخالفینو ترمنځ چې یوه برخه یې په ولسي جرگه کې دي، د گټو ټکر راغلی دی. دا وروستۍ لانجه د ولسي جرگې او اجرایه قوې ترمنځ لانجه نه ده، بلکې د امرالله صالح او د هغه د سیاسي مخالفینو ترمنځ لانجه ده چې گټې یې سره ټکر شوي او دواړه لوري یو د بل د ځپلو لپاره له خپلو موقفونو گټه اخلي.

د ولسي جرگې او امرالله صالح لانجه د دوی د شخصي او سیاسي گټو لانجه ده او په دې کې یو لوری هم سلامت نه دی. له بده مرغه دلته له دولتي څواکه د خلکو د گټو لپاره نه، بلکې د خپلو سیاسي او شخصي گټو لپاره استفاده کېږي او دلته د ولسمشر له لومړي مرستیاله تر وکیله، ټول د خپلو گټو لپاره د ولس په سترگو کې خاورې شیندي، ښایسته شعارونه ورکوي، خو کارونه یې د شخصي موخو لپاره دي. پکار ده چې ارگ نور دا ډرامه بنده کړي او که رښتیا هم د زورواکو او مفسدینو پر ضد گام اخیستل کېږي، نو له ارگ، امرالله صالح او د دوی له سیاسي متحدینو باید پیل وشي او بیا پکې د وکیلانو په گډون ټول زورواکي او مفسدین راشي. له دې پرته دا د شخصي گټو ټکر دی او خلک پوهېږي چې د لانجې اړخونه د ولس په غم کې نه دي.

# ایا یوویشتمه پېړۍ به د چین وي؟

## (مناظره)

ژباړه او لنډیز: احمد بلال خلیل

**لومړۍ برخه:**

**لنډیز**

د کاناډا «مونک مناظرې» د نړۍ پېژندل شوې خبرې راغواړې او په بېلابېلو فکري او ستراتیژیکي بحثونو کې ورسره مناظرې کوي. یوه له دغو مناظرو څخه دا هم وه چې ایا یوویشتمه پېړۍ به یوه چینایي پېړۍ وي؟ دا مناظره د وتلي امریکایي ریالیست تیوریسن هینري کېسنجر، نیوکلاسیکل ریالیست فرید زکریا، چینایي اقتصاد پوه ډیویډ لي او د نړۍ وتلي سیاسي-اقتصادي مورخ نیال فرگوسن تر منځ وشوه. هینري کېسنجر او فرید زکریا تر ډېره پر دې اند وو، چې چین به په یوویشتمه پېړۍ کې مهم زبرځواک وي؛ خو دوی نه شي کولای چې د یوویشتمې پېړۍ مشري وکړي. په بل اړخ کې، ډیویډ لي او نیال فرگوسن نه یوازې دا چې چین یو زبرځواک گڼي، بلکې روانه پېړۍ هم یوه چینایي پېړۍ بولي. دا چې په نړیواله او سیمه‌ییزه کچه بدلونونه روان دي او دا تر ډېره د چینایي فکټور له کبله انگېرل کېږي، د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز د تحلیل ژورنال هم وغوښتل چې د دې مناظرې ژباړه او لنډیز له خپلو لوستونکو سره شریک کړي. هغه هم په داسې مهال چې چین زموږ گاونډی او په افغانستان کې یې ښکېلتیا ورځ تر بلې زیاتېږي او په نړیواله کچه د افغانستان دا ستراتیژیک ملگری او گاونډی د افغانستان له دوو نورو ستراتیژیکو ملگرو د امریکا متحده ایالات او هند سره سیالي لري.

کیلي: چین، امریکا، یوویشتمه پېړۍ او نړیوال نظم.

روډیارډ گریفیتس: ښاغلو او آغلو ښه راغلاست! موږ د چین په تړاو د «مونک بحث» لپاره راغونډ شوي یو. زما نوم روډیارډ گریفیتس دی، زه له «پاټریک لوسیاني» سره په گډه د مونک بحثونو چمتوکوونکی یم. دا زما لپاره د ډېر ویاړ ځای دی چې یو ځل بیا د بحث چلوونکی یم.

لومړی د ټولو هغو زرگونو خلکو هرکلی کوم چې دغه بحث په ژوندۍ بڼه او په انټرنېټ کې د globeandmail.com او munkdebates.com وېب‌پاڼو له لارو ویني. دا د ډېرې خوشالۍ ځای دی چې تاسو ټول له موږ سره یوځای د دغه بحث گډونوال یاست. دغه راز د ټولو هغو خلکو هم هرکلی کوم چې د دې بحث لیدونکي، اورېدونکي او یا هم لوستونکي دي؛ په تېره بیا د استرالیا د نشراتو شرکت؛ په امریکا کې C-SPAN ، په چین کې د پیپلز ډیلي انلاین او په لندن کې فاینینشل ټایمز او د دې ورځپاڼې اړونده د چین څېړنیزه برخه.

د نن بحث به تر ډېره د دې پوښتنې پر ځوابولو وي، چې ایا یوویشتمه پېړۍ به یوه چینایي پېړۍ وي؟ راځئ د خپلو مناظره کوونکو تود هرکلی وکړو. د پوښتنې مثبت ځواب ورکوونکي نیال فرگوسن او ډیویډ لي او منفي ځواب ورکوونکي فرید زکریا او هینري کېسنجر دي.

نیال فرگوسن د ځینو زیات پلورل شوو کتابونو لیکوال دی، او د نړۍ په بېلابېلو برخو کې لکه هارورډ پوهنتون، اکسفورډ پوهنتون او لندن سکول آف اکنامکس کې یې استادي کړې ده.

زموږ دویم مناظره کوونکی ډیویډ لي د چین له بیجینگ سره تړاو لري. ده له هارورډ پوهنتون څخه خپله دوکتورا تر لاسه کړې او اوس د چین په مرکزي بانک کې د مالي پالیسۍ د مشورتي بورډ غړی او د چین په پوهنتونونو کې استاد پاتې شوی دی.

درېیم بحث کوونکی فرید زکریا دی. دی د سي این این د یو مشهور پروگرام کوربه او د ټایم مجلې او واشنگټن پوسټ ورځپاڼې اېډېټر دی.

زموږ وروستی بحث کوونکي په نړیوالو چارو کې تقریباً نیمه پېړۍ محوري رول لوبولی او د سولې نوبل جایزه یې هم تر لاسه کړې ده. ډاکټر کېسنجر او دی د امریکا ۵۶م د بهرنیو چارو وزیر هم پاتې شوی دی.

لومړی به نیال فرگوسن ته نوبت ورکړو چې خپله لنډه وینا موږ ته واوروي.

نیال فرگوسن: مننه روډیارډ او مننه ښاغلو او آغلو. زه باوري یم چې یوویشتمه پېړۍ به یوه چینایي پېړۍ وي؛ څکه په تېر کې ډېرې پېړۍ هم له چین سره تړل شوي وې. خو نولسمه او شلمه پېړۍ بیا له دې حساب څخه مستثنا دي. له وروستیو شلو پېړیو څخه په اتلسو پېړیو کې چین د نړۍ تر ټولو ستر اقتصاد درلود.

اجازه راکړئ چې ځینې ډیموگرافیکي او اقتصادي احصایې وړاندې کړم؛ چین د یوه هېواد پر ځای تر ډېره یوه لویه وچه ده. د نړۍ پنځمه برخه وگړي په چین کې اوسېږي. چین په مساحت کې له کاناډا څخه څو ځله لوی دی. که چیرې د اروپا په څېر ترتیب/تنظیم شي، نو دا به تقریباً پر (۹۰) ملي حکومتونو ووېشل شي. اوسمهال د چین یوولس ښارونه تقریباً له شپږو میلیونو څخه زیات وگړي لري؛ خو په اروپا کې بیا یوازې یو ښار داسې دی چې هلته له شپږو میلیونو څخه زیات وگړي مېشت دي او هغه هم لندن دی. دغه راز په اروپایي ټولنه کې څه داسې یوولس هېوادونه هم شته دي، چې نفوس یې له شپږو میلیونو څخه کم دی. په تېرو دریو لسیزو کې د چین اقتصادي وده په کلني ډول تقریباً لس سلنه زیاته شوې او د آی ایم ایف په وینا، چین به په راتلونکو څو کلونو کې د نړۍ تر ټولو ستر اقتصادي ځواک وي. چین اوسمهال د (منوفکچرینگ) او د موټرونو د مارکېټ په برخو کې نه یوازې له امریکا مخکې دی، بلکې په نړیواله کچه هم لومړی مقام لري. په چین کې به د موټرونو تقاضا په راتلونکو کلونو کې تقریباً لس سلنه زیاته شي او تر ۲۰۳۵ کال پورې به چین د نړیوالې انرژۍ پنځمه برخه لگوي/مصرفوي. د چین به پخوا بهرنیو پانگونو ته سترگې وې؛ خو اوس چین د ۳ ټریلیونو ډالرو د ریزرف او تقریباً د ۲۰۰ میلیاردو ډالرو سورن فنډ درلودلو سره پر یو پانگوال بدل شوی دی.

له دې ورهاخوا، تر ټولو اغېزمنه دا ده چې د نوښت او زده کړې په برخو کې هم چین د نړۍ سرلارو ته ورنږدې کېږي. نږدې ده چین د ډېرو پېټینگ ورکولو سره جرمني شاته کړي. یوه سروې ښیي چې د پنځلسو کلونو زده کړیالانو د ریاضي په یو امتحان کې د شانگهای محصلینو تر ټولو زیاتې نومرې تر لاسه کړې وې چې دا ۶۰۰ نومرې وې. امریکا تقریباً په پنځه ویشتم نمبر و او نومرې یې ۴۸۷ وې. ستاسو د حیرانتیا لپاره د کاناډا نومرې ۵۲۷ وې. که څه هم دا نومرې له امریکا لوړې دي، خو بیا هم ډېرې ښې نه دي.

ښاغلو او آغلو! دا زما لپاره اسانه نه ده چې له خپل سیال مناظره کوونکي (هینري کېسنجر) د ژوندلیکونکي په توگه ورسره مناظره وکړم. دا داسې ده لکه جیمز بوسویل چې له ډاکټر جانسن سره مناظره کوي. نو هغه څه چې زه یې سپارښتنه کوم؛ هغه دا چې ډاکټر کېسنجر او شاید فرید زکریا هم د مناظرې په غلط اړخ کې ناست دي. اجازه راکړئ چې د چین په تړاو د ډاکټر کېسنجر له زبردست کتاب څخه یو اقتباس تاسو ته وړاندې کړم. دی لیکي: «د چین دا هڅه چې له امریکا سره په برابرۍ په مشارکت کې دننه شي؛ دا تر ډېره د چین په اقتصادي او مالیاتي وړتیاوو کې نغښتلې ده» او یا هم د فرید زکریا له زبردست کتاب «له امریکا وروسته نړۍ» څخه یو اقتباس تاسو ته وړاندې کړم. فرید زکریا لیکي: «چین یو داسې هېواد دی، چې تله یې له امریکا څخه درنه ده او چین د بریاوو لپاره تږی دی.»

دا د ډېرې لېوالتیا ځای دی چې دا دوه ستر جیوپولیتیکي مفکرین له دې سره همغږي دي، چې د چین اقتصادي ننگونه به د امریکا د هژموني (زبرځواکۍ) لپاره هم ننگونه وي. یو ځل بیا غواړم چې ډاکټر کېسنجر اقتباس کړم. دی لیکي: «په آسیا کې د امریکا لخوا د یوې داسې پروژې عیارول چې موخه یې د چین ایسارول او یا هم د یوې ایډیالوژیکي صلیبي جگړې په موخه د چین پر وړاندې د ډیموکراتیکي هېوادونو د یو بلاک رامنځ ته کول به تر ډېره ناممکنه وي، څو دغه هڅې بریالۍ شي».

دی هیله من دی، لکه څنگه یې چې په خپل کتاب کې بیانوي، د یوې سوله ییزې همزیستۍ لپاره. خو ترځنگ یې دی د جرمني د هغه عروج له تکرار څخه چې سل کاله وړاندې یې انگلستان وننگاوه، هم وېره لري.

خو زما په اند، دا یوازې د چین له کبله نه ده. په یوویشتمه پېړۍ کې د چین د تسلط کیلي د لوېدیځ پر زوال هم منحصره ده. یو مالیاتي بحران چې د ډېرو پورونو اخیستلو او د (سبسیډي) قمار له کبله رامنځ ته شوی و؛ یو بودیجوي بحران چې د امریکا لپاره دا مانا لري، چې اوس به له خپلې دفاع څخه زیات د پورونو د ورکړې پر سود پیسې مصرفوي؛ سیاسي بحران چې د روسانو له کبله رامنځ ته شوی دی او یو اخلاقي بحران چې اوس یې د امریکا ټولنه په خپله ولکه کې نیولې ده.

یوویشتمه پېړۍ به د یوې زیاتې وزن لرونکې، زیاتې پراخېدونکې، زیاتې گټه اخیستونکې امریکا له کبله یوه چینایي پېړۍ وي؛ هېره دې نه وي چې دلته موږ د یوې ناچلې اروپا یادونه نه کوو.

څلور لسیزې وړاندې تر ټولو دمخه د امریکا ولسمشر ریچارډ نکسن دغه ټکې ښه درک کړی و. دی وایي: «تاسو تم شئ او لږ فکر وکړئ چې یو څوک د حکومتولۍ له یو غوره سیستم سره پر چین کنټرول پیدا کړي. آه زما خدایه! په ټوله نړۍ کې به داسې هېڅ ځواک هم نه وي، چې د دوی مخه ونیسي... زما موخه دا ده چې که تاسو ۸۰۰ میلیونه چینایان تر یو غوره سیستم لاندې کار ته سوق کړی، نو هغوی به پر نړۍ واکمني وکړي.»

**دوام لري...**

# اسراییل ته د ایران خبرداری؛

## خامنه‌یي: ډېر ژر به د ساینسپوه فخري زاده د وژلو غچ واخیستل شي



د ایران مذهبي مشر ایت الله علي خامنه‌یي د دغه هېواد د مشهور اټومي ساینسپوه محسن فخري زاده د وژل کېدو د غچ غوښتنه کړې ده.

نوموړي پر خپله رسمي وېبپاڼه د دغه قتل د تعقیب او عاملینو ته یې د سزا ورکولو غوښتنه کړې ده.

بلخوا د ایران ولسمشر حسن روحاني هم د دې پېښې په تړاو اسراییل تورن کړی چې د امریکا د مزدور په توگه عمل کوي. روحاني پر خپله رسمي وېبپاڼه لیکلي: «یو ځل بیا د نړیوالو اشرارو لاسونه د مزدور صهیونستي رژیم د دسیسې له کبله د دغه هېواد د یوه بچي په وینو ولړل شول.»

د یادونې ده چې محسن فخري زاده ورمه ورځ (د نومبر پر ۲۷مه) تهران ته نږدې په یوه وسله وال برید کې ووژل شو.

دغه راز د ایران د اټومي اداري مشر علي اکبر صالحي ویلي، د فخري زاده وژنه به د ایران د اټومي پروگرام چارې اغېزمنې نه کړي.

تهران تور پورې کړی چې د دغه برید تر شا اسراییل لاس لري. د ایران د بهرنیو چارو وزیر محمد جواد ظریف پر ټوېټر لیکلي: «ترهگرو د ایران یو مخکښ ساینسپوه وواژه. اروپایي ټولنه دې د ده د ترهگرۍ دا عمل وغندي.»

بلخوا د ایران دفاع وزیر امیر حاتمي پر محسن فخري زاده د برید په تړاو دولتي ټلوېزیون ویلي: «کوم راپورونه چې د پېښې له سیمې لرو، دا ښکاروي چې لومړی د هغه په موټر باندې ډزې شوې او لس پنځلس ثانیې وروسته یونیسان موټر چې پکې چاودېدونکي مواد ځای پر ځای شوي وو، چاودنه کوي. فخري زاده په دې پېښه کې ټپي کېږي چې د همدغو ټپونو په خاطر یې وروسته ساه ورکړه.»

لوېدیځو استخباراتي شبکو محسن فخري زاده د ایران د اټومي پروگرامونو متفکر مغز باله او د دوی په باور چې هغه د اټومي پروگرام په نوم اټومي وسلې جوړولې، خو ایران د فخري زاده په اړه دا خبرې رد کړې دي.

په ورته مهال اسراییل تر اوسه د محسن فخري زاده د وژنې په تړاو غبرگون نه دی ښودلی، خو تر دې وړاندې د اسراییل لومړي وزیر بنیامین نتانیاهو په یوه کنفرانس کې ویلي وو چې د محسن فخري زاده نوم باید په یاد ولرئ.

دغه راز د امریکا دفاع وزارت هم د محسن فخري زاده د وژنې په تړاو د رویټرز خبري اژانس ته له تبصرې ډډه کړې ده.

بلخوا، رویټرز اژانس زیاتوي چې اسراییل په ټوله نړۍ کې د خپلو سفارتونو کارکوونکو ته خبرداری ورکړی چې له ځان سره پام وکړي. رویټرز دا خبر د یوې اسراییلي رسنۍ په حواله خپور کړی دی، خو اسراییلي چارواکو تر اوسه په دې اړه څه نه دي ویلي.

# د افغانستان- ایران اړیکې او د «اوبو سیاست»

حکمت الله ځلاند

**لومړۍ برخه:**

**لنډیز**

د افغانستان اوبه په پنځو حوزو وېشل شوې، چې څلور هغه یې فرامرزي یا له نورو هېوادونو سره گډې حوزې دي. افغانستان تر اوسه یوازې د هلمند سیند په حوزه کې له ایران سره د ۱۹۷۳ کال د اوبو د وېش تړون لري، چې له بده مرغه د دغه تړون شتون هم له ایران سره د اوبو د وېش شخړه په بشپړ ډول نه ده هواره کړې او له کبله یې دغه هېواد وخت ناوخت پر افغانستان بېلابېل فشارونه واردوي. له همدې کبله له ایران سره د گډو اوبو اړوند ستونزو د هواري جدي اړتیا لیدل کېږي.

افغانستان د اوبو د کابو ټولو گډو حوزو په پاسنۍ برخه کې پروت دی، چې له کبله یې د لاندې برخې هېوادونه د دغو اوبو په تړاو خپلې اندېښنې لري؛ دا چې له ایران سره پر گډو اوبو شته ستونزو څه اغېزې لرلې؟ د ایران اندېښنې څه دي او دا اندېښنې څومره پر ځای دي؟ هغه پوښتنې دي چې په دې مقاله کې یې د ځوابولو هڅه شوې ده.

د دغو پوښتنو د ځوابولو لپاره له شته اسنادو او باوري څېړنو او دغه راز ځینو مرکو څخه کار اخیستل شوی. په ټولیز ډول، دا څېړنه ښيي چې له ایران سره د اوبو د ستونزو یو مهم لامل شته بې‌باوري، کمزوري همغږي او د گډو اوبو د کچې په اړه د کره او دقیقو موادو او معلوماتو نشتون دی او له همدې کبله په ځینو مواردو کې د ایران اندېښنې هم تر ډېره پر ځای نه دي؛ خو بیا هم له ایران سره د گډو اوبو اړوند شخړو شتون د اوبو پر سکټور خورا منفي اغېزې لرلې او په ځانگړې توگه په دې سکټور کې د نړیوالو ډونرانو د پانگونو مخه یې ډب کړې ده.

کیلي: د افغانستان اوبه، د هلمند د اوبو تړون، گډې اوبه، د اوبو سیاست، د اوبو امنیت او افغان-ایران اړیکې

**پېژندنه**

له نورو هېوادونو سره د شریکو اوبو په برخه کې تر ټولو ډېرې ستونزې هم په تېر کې او هم اوسمهال، له ایران سره د افغانستان د تر ټولو اوږده او ستر سیند (هلمند) د اوبو په تړاو دي او له همدې کبله د اوبو یوازینی تړون هم له دغه هېواد سره د هلمند د اوبو د وېش په اړه لاسلیک شوی دی. له بده مرغه د دغه تړون شتون هم دا ستونزې په بشپړ ډول له منځه نه دي وړې. له ایران سره د اوبو د وېش د ستونزې ژورتیا ته په کتو سره، دا موضوع د نورو حوزو په پرتله یو څه ژورې کتنې او څېړنې ته اړتیا لري، څو د دواړو هېوادونو ترمنځ د اوبو په تړاو د شخړو اساسي لاملونه روښانه او حل‌لارې ورته وړاندې شي.

د هلمند د سیند تر څنگ د هریرود- مرغاب حوزه هم له ایران سره گډه حوزه ده، چې په اړه یې تر اوسه کوم تړون هم نه دی لاسلیک شوی. هریرود سیند د هېواد په لوېدیځ کې ایران ته له داخلېدو مخکې له هغه هېواد سره د افغانستان پوله جوړوي او د افغانستان له خاورې له وتلو وروسته لومړی ایران او بیا ترکمنستان ته بهېږي؛ خو مرغاب سیند بیا نېغ په نېغه له افغانستانه د ترکمنستان قرقوم دښتې ته بهېږي او افغانستان له دغه سیند څخه ډېره لږه استفاده کوي؛ له همدې کبله د گډو اوبو په تړاو د بحثونو ډېره لږه برخه هم جوړوي.

د ۲۰۱٦ کال په جنوري کې ایران ته د افغانستان د وخت د اجرایه رییس ډاکټر عبدالله عبدالله د سفر پر مهال له ایراني چارواکو سره هوکړه وشوه، چې د هریرود سیند د اوبو د وضعیت او وړتیا په تړاو د څېړنو لپاره به گډه کارډله جوړوي، څو د نړیوالو قوانینو له مخې له دغو اوبو عادلانه کار اخیستنې ته لاره هواره شي. همدا راز د هلمند سیند د اوبو په اړه د ۱۹۷۳ کال تړون د هر اړخیز پلي کېدو او په دې تړاو د اړوندو مسوولینو پر منظمو ناستو هوکړه وشوه، خو تر اوسه په دې تړاو عملي اقدام نه دی شوی. د هریرود سیند د راتلونکي وضعیت په تړاو مشخصې وړاندوینې نشته؛ خو په هرات ولایت او د ایران په اړخ کې د اوبو تقاضا مخ په زیاتېدو ده، کوم څه چې د دواړو هېوادونو ترمنځ د اوبو پر اړیکو د پام وړ اغېزې ښندي. ترڅنگ یې په وروستیو کلونو کې پر دغه سیند د هند له لوري جوړ شوي سلما بند د پروژې بشپړېدو هم د دواړو هېوادونو ترمنځ د گډو اوبو موضوع لا ډېره توده کړه.

**د مقالې جوړښت او مېتودولوژي**

دغه مقاله پر پنځو برخو وېشل شوې ده. په لومړۍ برخه کې د افغانستان د اوبو حوزې په تېره بیا د هلمند سیند او د هریرود- مرغاب حوزې او دا چې د اوبو امنیت ولې د افغانستان لپاره مهم دی، په لنډکي توگه بیان شوې. په دویمه برخه کې له ایران سره د اوبو شخړې مخینه بیان شوې. په دریېمه برخه کې د ایران اندېښنې په نښه شوې. په څلورمه برخه کې بیا پر دوو اړخیزو اړیکو د اوبو سیاست اغېزه ښودل شوې او په پنځمه یا وروستۍ برخه کې پایله او د پالیسۍ جوړونې په تړاو ځینې سپارښتنې وړاندې شوې دي.

دغه مقاله د ځینو شته اسنادو، د تحقیقاتي مراکزو د څېړنو د پایلو او د څېړونکي د مرکو په رڼا کې لیکل شوې، چې حوالې یې په لمن لیکونو کې ښودل شوې دي.

**لومړۍ برخه؛ د افغانستان د اوبو حوزې**

افغانستان د اوبو پنځه سترې حوزې او ۳٦ فرعي حوزې (مرستندوې سیندونه) لري. پنځه سترې حوزې یې آمو سیند، هریرود- مرغاب سیند، هلمند سیند، کابل سیند او د کابل په شمال کې بهېدونکي سیندونه دي، چې د شمال حوزه هم بلل کېږي.

دا چې زموږ د مقالې موضوع یوازې تر ایرانه محدوده ده، نو ځکه به په لنډه توگه دلته د هلمند سیند، د هریرود-مرغاب سیند پېژندنه وړاندې کړو او وروسته به جوخت دا هم بحث کړو، چې د اوبو امنیت د افغانستان لپاره ولې ارزښتناک دی؟

**د هلمند سیند حوزه**

هلمند سیند د افغانستان ستر او اوږد سیند دی، چې اوږدوالی یې ۱۱۵۰ کیلومترو ته رسېږي او د افغانستان په سوېل- لوېدیځ کې بهېږي. د افغانستان د اوبو د ټولو حوزو ۴۱ سلنه سیمه په دې حوزه کې راځي، د هېواد ۳۱ سلنه کرنیزه ځمکه او ۲۸ سلنه نفوس تر پوښښ لاندې لري او د افغانستان د اوبو د ټولو سرچینو ۱۰ سلنه برخه جوړوي. د اوبو اخیستلو ټوله ساحه یې ۲٦۲۳۴۱ کیلومتره مربع ته رسېږي او په تخمیني ډول هر کال ۹.۳۰ میلیارد متر مکعب اوبه پکې بهېږي، چې په پراخه کچه د اوبو لگونې او برېښنا د تولید وړتیا لري.

د هلمند سیند د کابل په لوېدیځ کې د بابا غرونو د سوېلي برخې له شېلو څخه په ۴۴۰۰ متره لوړوالي سرچینه اخلي او له ختیځ څخه د لوېدیځ په لور بهېږي. د میدان وردگو ولایت له لوېدیځې پولې څخه له تېرېدو وروسته د بامیانو او ارزگان سوېلي برخو ته ننوځي. د دغه سیند یوه شېله له اونۍ درې څخه د هلمند په کجکي ولسوالۍ کې راوتلې ده. د کجکي بند له تېرېدو وروسته نور هم پراخېږي او د برېښنا د تولید لپاره د اوبو د بندونو د جوړېدو مناسبې سیمې لري. په کمال خان سیمه کې د شمال لور ته مسیر بدلوي او افغانستان- ایران پولې ته رسېږي. د پولې په اوږدو کې په دوو برخو وېشل کېږي. د سیستان شاخه یې کیڼ لوري ته ځي او ایران ته ننوځي او د نادعلي شاخه یې ښي لوري ته اوړي او له ایران سره لوېدیځه پوله جوړوي.

ارغنداب سیند یې تر ټولو مهم مرستیال سیند دی. نور مرستیال سیندونه یې هم ترنک، ادرسکن، ارغستان، فراه رود، خاشرود، سیستان- هلمند، سردې او غزني سیندونه دي چې په ټول سوېل- لوېدیځ کې شاوخوا ۱۴۰ زره کیلومتره سیمې خړوبوي. د هلمند سیند په افغانستان او ایران کې پراخې ځمکې خړوبوي، چې په افغانستان کې یې ۹۷ سلنه اوبه په کرنیز سکټور کې او په ایران کې یې ۸۰ سلنه په کرنیز سکټور کې لگول کېږي.

**د هریرود- مرغاب سیند حوزه**

د هریرود- مرغاب حوزې دوه اساسي سیندونه هریرود او مرغاب سیندونه دي. دا سیند د بابا غرونو له لوېدیځو څنډو سرچینه اخلي او له افغانستانه له وتلو وروسته ایران او بیا ترکمنستان ته بهېږي. دا سیند ختیځ لوري ته بهېږي او له هرات وروسته لومړی شمال- لوېدیځ او بیا شمال لوري ته تاوېږي. له اسلام‌قلعې څخه تر دهنه ذوالفقار پورې د افغانستان او ایران تر منځ د پولې شمالي برخه جوړوي او وروسته بیا تر سورخس پورې د ایران او ترکمنستان تر منځ د پولې سوېل ختیځه برخه جوړوي او په پای کې د ترکمنستان په قرقوم دښته کې پای ته رسېږي. په هرات کې سلما بند او دغه راز د ایران- ترکمنستان د دوستۍ بندونه پر همدغه سیند جوړ شوي دي.

مرغاب سیند که څه هم د تیربند ترکستان غرونو له لوېدیځو څنډو او د سپین غره له شمالي څنډو سرچینه اخلي او تر ډېره شمال لوري ته بهېږي؛ خو له هریرود سیند سره یو ځای دواړه سیندونه د ترکمنستان د قرقوم دښتې قاسس سیمه کې ماري او تېجېن د اوبو لگونې کانالونو ته توییږي.

په هریرود- مرغاب حوزه کې هر کال شاوخوا ۳.۰٦ میلیارد متر مکعب اوبه بهېږي او د اوبو اخیستلو ساحه یې ۷۷٦۰۴ کیلومتر مربع ته رسېږي. دا سیند د افغانستان د اوبو د ټولو حوزو ۱۲ سلنه، د هېواد د ټول نفوس ۸ سلنه او د ټولې کرنیزې ځمکې ۱۱ سلنه برخه تر پوښښ لاندې لري.

**دوام لري...**

# د ارگ او ولسي جرگې اختلافات؛

## وکیلان: د ولسمشر غني په گډون هېڅوک باید د سولې په لار کې خنډ جوړ نه کړي



د ولسي جرگې او حکومت ترمنځ د نوو کشمکشونو په دوام، تازه وکیلانو ویلي چې حکومتي چارواکي دې د بې گټو موضوعاتو پر ځای پر سوله او د سولې پر روانه پروسه تمرکز وکړي. د ولسي جرگې غړو د تېرې ورځې په امتیازي ساعت کې د حکومت له لوري پر وکیلانو د وروستیو تورونو په اړه خبرې وکړې. دوی د ولسمشر د لومړي مرستیال امرالله صالح څرگندونې وغندلې او تېره ورځ یې هم خپل اعتراض ته ادامه ورکړ. بلخوا د ملي امنیت شورا او ولسمشر غني له ولسي جرگې سره د ښو اړیکو پر لرلو ټینگار کړی دی.

د جینوا په کنفرانس کې د ولسمشر لومړي مرستیال امرالله صالح پر وکیلانو تور پورې کړ چې دوی په فساد کې ښکېل دي. له همدې ورځې د حکومت او ولسي جرگې ترمنځ نانډرۍ لا ډېرې شوې. وکیلان وايي چې د ولسمشر لومړي مرستیال د ملت کور ته سپکاوی کړی او په دې توگه یې د خلکو د ارادې د تمثیل دا برخه بې باوره کړې ده. دوی زیاتوي، د ولسمشر لومړی مرستیال دې د هغو وکیلانو په اړه اسناد وړاندې کړي چې دوی په فساد کې ښکېل دي او له دې پرته دې پر ټولو وکیلانو د فساد تور نه پورې کوي.

د ولسي جرگې غړو له همغې ورځې راهیسې د حکومت نوماند وزیران د پروگرامونو له وړاندې کولو منع کړي او همدا راز یې ټینگار کړی، تر هغه چې د ولسمشر لومړی مرستیال دا ستونزه حل نه کړي، دوی به نوماند وزیرانو ته د باور رایه ور نه کړي. د ولسمشر لومړي مرستیال بیا د وکیلانو د دغو څرگندونو په ځواب کې ویلي وو، چې ولسي جرگې ته درناوی لري، خو وکیلان هم ملایکې نه دي او باید د فساد تورونه یې وڅېړل شي.

د ولسي جرگې غړو په پرونۍ غونډه کې همدا راز د سولې په اړه هم څرگندونې لرلې. دوی وویل، په حکومت کې په دې وروستیو کې داسې هڅې پیل شوې چې په یو ډول د سولې روان بهیر تر سیوري لاندې راولي او د خلکو پام له دې مهم هدف بلې خوا ته کړي. د ولسي جرگې غړو پر حکومت غږ وکړ چې له سولې سره مخالفت او د سولې په برخه کې د خنډونو له جوړولو ډډه وکړي. د وکیلانو په خبره، د ولسمشر غني او لومړي مرستیال امرالله صالح په گډون هېڅوک د سولې مخالفت نه شي کولی او نه هم د خلکو د ارادې پر وړاندې درېدلی شي. په ولسي جرگه کې د هرات د خلکو استازي منور شاه بهادري وویل، که حکومتي چارواکي د ولس د ارادې او تمې خلاف کار کوي، نو دوی په حقیقت کې یو ملت برمته کوي. د ده په خبره: ((د ولسمشر غني او لومړي مرستیال امرالله صالح په گډون، هېڅوک حق نه لري چې ملت او هېواد برمته کړي. هېڅوک د ولس د ارادې پر وړاندې نه شي درېدلی، دوی دې د سولې په لار کې خنډ نه جوړوي)).

د ولسي جرگې غړو همدا راز وویل چې د ولسمشر لومړی مرستیال دې د شپږنیمو د جلسو پر ځای پر سوله تمرکز وکړي؛ ځکه په خبره یې، که سوله راشي، هم نا امني ورکېدلې شي او هم به خلک خوندي وي. د بهادري په وینا: ((لومړیتوب سوله دی. د ولسمشر پر لومړي مرستیال هم غږ کوم، چې پر سوله تمرکز وکړي، دا خلکو ته تر هر څه مهمه ده. موږ سوله غواړو، ملت نور له جگړو ستړی دی او د سولې د راتگ تمه لري)).


بلخوا د ولسي جرگې رییس میر رحمان رحماني تېره ورځ د وروستیو ناندریو په اړه له ولسمشر غني سره کتلي دي. نوموړي هیله ښوده چې د اجرایه او مقننه قوې ترمنځ اوسنی کشمکش پای ته ورسېږي. ولسمشر بیا د دواړو لورو ترمنځ د اړیکو پر لا ټینگېدو او همکاریو پر پراختیا ټینگار کړی او په دې برخه کې پر ځینو میکانېزمونو هم توافق شوی دی.

## د کتاب خبري

# د جاسوسۍ پېښلړ
# RAW, ISI
# او د سولې وهم

◎ لیکوالان: اې. اېس دولت، اسدوراني او ادېتیا سپنها
◎ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

### لومړۍ برخه
### د زیمنې برابرول




دولت: زه له تاسو سره کاملاً موافق یم ښاغلیه. زه غواړم یوازې ستا د خبرې تفسیر داسې وکړم چې مهرباني وکړئ د ISI او RAW مشرانو ته چانس ورکړئ. داسې یو مناسب چانس چې باور پرې ولرې. دا اوس زموږ لپاره اسانه ده چې باور وکړو، ځکه چې موږ اوس په صحنه کې نه یو. خو که تاسو د ISI او RAW داسې یو مشر ولرې چې باور پرې کېږي، نو یو کار به حتماً وشي، حتی کوچنی پرمختګ.

دورانی: دا چانس باید د یوه عادي دلیل له مخې ور نه کړل شي. کله چې ما له خپل سیال سره لیدل، ما هغه نه پېژانده او زما په اند نه هغه زه سم پېژندلم. بله چاره نه وه باید لیدلي مو وای. خو هغه ته اجازه نه وه. هلته یوه بې مانا چوپتیا خوره وه.

دولت: اوس خو ښکاري چې نه لیدنې شته او نه بل شی.

دورانی: ایا ته ډاډه یې چې اوس لیدنې نه شته؟

سپنها: ایا د RAW او ISI اوسني مشران سره ویني؟

دولت: څوک خبر دي؟ موږ باید خبر نه شو.

دورانی: دا سم ځواب دی. که چېرته واقعي لیدنې وي، نو موږ باید پرې خبر نه شو.

دولت: زه واقعاً خبر نه یم. په دې هم خبر نه یم چې وروستی ملاقات یا لیدنه یې کله وه. جنرال صېب لیدنې کړې، احسان صېب لیدنې کړې.

سپنها: ایا تاسو له جنرال محمود سره لیدلي نه وو؟

دولت: نه کومه لیدنه مو نه درلوده.

دورانی: ما چې کله له باجپای سره لیدل، یوازې پنځه یا شپږ کسان خبر وو او کلونه کلونه مې په دې اړه انکار وکړ- حتی کله چې بې رامان په دې اړه په خپل کتاب کې یادونه کړې وه. وروسته یې بیا وخت راغی چې اعتراف وکړم، چې هو د را له مشر سره مې لیدلي وو.

دولت: دا هغه څه دي چې ما تل غوښتل. ما ډېرې لیدنې کړې. پاکستاني ملګرو مرسته کړې ده او زه د RAW یوازېنی مشر یم چې یو ځل نه بلکې څلور ځله پاکستان ته تللی یم. ما له یوه پاکستاني ټلوېزیون سره مرکه هم کړې. زموږ ملګري اعجاز حیدر د ټلوېزیوني مرکې بندوبست کړی و او وروسته یې راسره چای هم وڅښه. هغه وویل، مننه، دا زما لپاره ستره لاس ته راوړنه ده، ځکه چې تر اوسه د RAW هېڅ مشر په کوم پاکستاني ټلوېزیون کې نه دی راڅرګند شوی.

دورانی: یو کس چې پوهېږي هم زه هېڅکله ټلوېزیونونه نه ګورم، زنګ راووهه. زه په دې وخت کې په یوه کار بوخت وم، خو دومره مهم نه و. په ببره ببره یې کانالونه اړول، ویې ویل چې ښاغلی دولت په ټلوېزیون کې مرکه لري. ما هغه ولید چې ویې ویل: هو البته چې زه په پاکستان کې یو ملګری لرم او زما نوم یې واخیست.

سپنها: تاسو په خپل کتاب کې د غوره سازمان یادونه کړې چې په خبره مو له ISI څخه متاثره یاست.

دولت: ما دا خبره کړې. د جنرال صېب مهرباني ده چې د RAW ستاینه یې کړې، خو حقیقت دا دی چې موږ فکر کوو چې مقابل لوری هېڅکله ښه کېدای نه شي، مهمه نه ده چې څومره کتابونه یې په اړه لیکل شوي دي. که موږ رښتیني اوسو، نو کله چې زه او هغه خبرې کوو، نو د حقایقو په اړه خبرې کوو. کنه له دې پرته به یوازې د ارزونې لیدنه وي.

سپنها: د پخوانیو استخباراتي مشرانو ترمنځ د دویم پړاو خبرې (Track-II meetings) خبرې څنګه پر مخ تللې؟ ایا ننګونې پکې وې؟

دولت: زموږ د وخت دویم پړاو خبرو کې زما تجربه دا وه چې په هغو غونډو او ناستو کې به چې ډیپلوماټان نه وو، د ډېر پرمختګ احساس مو کاوه. کله چې د اوتاوا پوهنتون په نوښت د هند او پاکستان د پوځي مشرانو ترمنځ ډیالوګ په لاره واچول شو، ډېر ښه پر مخ لاړ. لکه جنرال صېب چې وړاندیز وکړ، د متقاعدو استخباراتي مشرانو ترمنځ هم ورته یو ډیالوګ شته او ډېر ښه پر مخ ځي. دا کولای شي چې لږ تر لږه شخړې او بدبینۍ راکمې کړي. سره له دې چې ښایي د مسایلو په اړه به اختلافات وي، خو ډېر ښه ګام دی. ما له ۲۰۰۸ کال راهیسې په ګڼ شمېر دغه ډول ناستو کې ګډون کړی او د دې ناستو له ډلې د استخباراتي افسرانو ترمنځ ناستې یې خورا په زړه پورې دي. د بهرنیو چارو وزارت یا نورو ملکي ادارو چارواکي ځانونه ډېر جدي نیسي او داسې برېښي چې د اګرې یا اسلاماباد په غونډو کې وي. هغوی هېره کړې چې دا د دویم پړاو خبرې دي او په دې کې سفیران یا د بهرنیو چارو وزیران نه شته. بله ورځ یوه کس اوږد پرېزنټېشن تیار کړی و. ما وویل پرېزنټېشن ته څه اړتیا لرو؟ موږ دلته د ملګرو په څېر خبرې کوو. په پرېزنټېشن کې کومه ستونزه نه شته، خو داسې ښکاري چې تاسو دلته د یوه څه شي لپاره چمتووالي ته راغلي یاست. ځینې وخت چاپېریال داسې وي چې هر څه پکې ترسره کېدای شي، خو ځینې وخت بیا د دې ډول شیانو لپاره مناسب نه وي. زه اوس اعتراف کوم چې هغه وخت وضعیت دومره بد نه و. که څه هم زما د برداشت له مخې جنرال صېب او نورو پاکستاني اړخونو داسې فکر کاوه چې وضعیت تر پخوا خراب شوی. **دوام لري...**

# نیستان د لوړو زده کړو خصوصي موسسه

حمیدالله حمیدي




نیستان د لوړو زده کړو خصوصي موسسې د لوړو زده کړو له وزارت سره تر ثبت او راجستر او د دغه وزارت تر منظورۍ وروسته خپلې رسمي چارې په ۱۳۹۴ کال کې پیل کړې دي. د لوړو زده کړو د دې موسسې د محصلینو امر ښاغلی احمد ذکي وایي، چې دوی له هماغه لومړي سره بیا تر اوسه پورې دوه پوهنځي (حقوق او سیاسي علوم او ژورنالیزم) په درلودلو سره پر فعالیت پیل کړی دی. دی وایي، تر اوسه پورې یې دوې دورې محصلین د لېسانس په کچه فارغ کړي او ټولنې ته یې د خدمت په موخه وړاندې کړي دي.

نوموړی وایي، چې لوړو زده کړو وزارت ته یې د اقتصاد او شرعیاتو پوهنځیو د ایجادولو وړاندیز هم کړی دی، خو له بده مرغه چې د ولسمشر د امر پر اساس لوړو زده کړو وزارت په خصوصي پوهنتونونو کې د نویو پوهنځیو جوړول بند کړي دي. ښاغلی ذکي وایي چې حقوق او سیاسي علومو پوهنځی یې دوه ډیپارټمنټونه (قضا او څارنوالي او اداره او ډیپلوماسي) لري او ژورنالیزم پوهنځی یې هم دوه ډیپارټمنټونه (راډیو- ټلوېزیون او مطبوعات) لري.

د لوړو زده کړو په دغه موسسه کې اوسمهال د ۹۵۰ په شاوخوا کې محصلین پر لوړو زده کړو بوخت دي، چې دېرش سلنه یې ښځینه محصلینې دي. دی وایي، دا چې دوی نوی نوی فعالیت پیل کړی دی، نو د ماسټرۍ پروګرام د پیلولو لپاره یې لا شرایط پاتې دي. دی وایي، له موسسې څخه پوهنتون ته ارتقاع، څلور پوهنځي درلودل او څلور دورې فارغین ورکول د ماسټرۍ پروګرام د پیلولو لپاره وضع شوي شرطونه دي. د لوړو زده کړو له دې موسسې څخه تر اوسه پورې دوې دورې محصلین فارغ شوي دي.

ښاغلی احمد ذکي وایي چې د دوی ځای او امکاناتو ته په کتو چې لري یې، هر کال د ۳۰۰۰ په شاوخوا کې نوي محصلین جذبولای شي، خو د لوړو زده کړو وزارت د مقرراتو له مخې بیا دوی کولای شي هر کال د ۲۵۰ په شاوخوا کې نوي محصلین جذب کړي. دی وایي چې له قرنطین وروسته یې د کانکور ازموینه اخیستې ده، چې دواړو پوهنځیو ته یې په مناسبه اندازه نوي محصلین جذب کړي دي.

د نیستان د لوړو زده کړو موسسې اداره وایي، چې دوی د لوړو زده کړو د خصوصي موسسو په منځ کې یوازینۍ هغه موسسه ده چې له خپلو محصلینو څخه په ډېره کمه اندازه فیس اخلي او تر څنګ یې خپلو ټولو محصلینو ته مناسب تخفیف هم ورکوي. دی وایي، تر اوسه داسې نه ده شوې چې محصلین دې دوی ته پوره ټاکل شوی فیس ورکړی وي. د دې تر څنګ دوی خپل محصلین په بېلابېلو کټه‌ګوریو باندې وېشلي دي چې بیا هرې کټه‌ګورۍ ته د هغوی د ارزونې له مخې مناسب تخفیف ورکوي. په نیستان د لوړو زده کړو موسسه کې د ورځې په درېیو وختونو کې محصلین د تدریس لپاره ورغوښتل کېږي.

د لوړو زده کړو دغې موسسې د خپلو محصلینو د مطالعې برخې ته هم پاملرنه کړې ده او د موسسې په دننه کې یې یو مجهز کتابتون هم جوړ کړی دی. ښاغلی احمد ذکي وایي چې په خپل کتابتون کې یې یوازې د حقوقو پوهنځي لپاره د ۱۵۰۰ په شاوخوا کې کتابونه ځای پر ځای کړي دي. دغه راز د ژورنالیزم پوهنځي اړوند او نورو بېلابېلو برخو اړوند کتابونه په خپل کتابتون کې لري. دی وایي، هڅه یې دا ده چې خپل کتابتون نور هم غني کړي.

نیستان د لوړو زده کړو خصوصي موسسه په کور د ننه له ټولو دولتي او خصوصي پوهنتونونو سره ښې اړیکې لري. دی وایي، په همدې اړه د افغانستان د لوړو زده کړو وزارت څو ورځې وړاندې د خصوصي پوهنتونونو او د لوړو زده کړو د خصوصي موسسو لپاره یو ورکشاپ هم جوړ کړی و، چې خصوصي پوهنتونونه څنګه کولای شي چې له دولتي او دغه راز په خپل منځ کې اړیکې سره وپالي او د یو بل له تجربو څخه ګټه واخلي. خو دا چې نیستان د لوړو زده کړو موسسه له هېواده بهر له کوم پوهنتون سره اړیکې او یا هم د علمي اړیکو کومه هوکړه لري او که نه، ښاغلي احمد ذکي یې په اړه څه ونه ویل.

ښاغلی احمد ذکي وایي چې تر اوسه پورې یې دوې دورې محصلین فارغ کړي، چې لومړۍ دورې ته یې تحصیلي سندونه چې یوه تصدیق پاڼه او د نومرو فورم پکې شامل دي، ورکړي دي. دی وایي، دغه سندونه د موسسې له اداري او دغه راز د لوړو زده کړو وزارت له لوري تایید شوي دي. د ده په خبره، لوړو زده کړو وزارت لومړی خصوصي پوهنتونونو او له هغه وروسته د لوړو زده کړو خصوصي موسسو ته په خپل وار د ډیپلومونو وېش پیلوي، چې تر اوسه پورې د دوی نوبت نه دی رسېدلی، خو په خبره یې محصلین کولای شي له ورکړل شویو تحصیلي سندونو څخه هم ګټه واخلي او په ټولو کورنیو او بهرنیو ادارو کې د تایید وړ دي.

د لوړو زده کړو د دې موسسې د محصلینو امر وایي، چې تمثیلي محکمه، د عملي کار لپاره څارنوالیو او محاکمو ته د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي محصلینو بېول، راډیوګانو ته د ژورنالېزم پوهنځي محصلینو بېول او په ټوله کې د نظري زده کړو تر څنګ د عملي زده کړو د زمینې برابرول او نور امکانات یې هم د محصلینو لپاره برابر کړي دي، څو د محصلینو تجربه او وړتیا ور سره لوړ شي.

ښاغلی احمد ذکي وایي چې د لوړو زده کړو وزارت له مقرراتو سره سم یې د تدریس لپاره ماسټر استادان په دندو ګومارلي دي او هڅه یې دا ده چې خپلو دایمي استادانو ته په کور د ننه او بهر دواړو کې د دوکتورا زمینې هم برابرې کړي، خو ځینې فرعي مضامین لکه کمپیوټر او انګلسي یې بیا د هغو استادانو لخوا تدریسېږي، چې د لېسانس تر کچې پورې زده کړې لري. دی وایي، دایمي او قراردادي دواړه استادان لري چې په قراردادي استادانو کې یې د کابل پولي تخنیک او ښوونې او روزنې پوهنتون استادان هم شامل دي.

د نیستان د لوړو زده کړو موسسې اداره د دې موسسې د لا پرمختګ لپاره پنځه کلن ستراتیژیک پلان لري. د نویو پوهنځیو ایجادول، له موسسې څخه پوهنتون ته ارتقاع کول، د استادانو او محصلینو د وړتیاوو او تجربو د لوړولو لپاره امکانات برابرول، په کور د ننه او بهر کې له پوهنتونونو او نورو اړوندو ادارو سره د علمي اړیکو د هوکړو لاسلیک کول او دې ته ورته نور کارونه، د دې موسسې له راتلونکو پلانونو څخه دي.

ښاغلی احمد ذکي وایي، چې په ټوله کې ور سره لوړو زده کړو وزارت همکار دی، خو لکه څنګه چې خصوصي سکټور د دولت له مهمو پایو څخه شمېرل کېږي او ملاتړ یې باید وشي، لوړو زده کړو وزرات له خصوصي پوهنتونونو او د لوړو زده کړو له خصوصي موسسو سره هغه ډول همکاري نه کوي چې باید ویې کړي. د بېلګې په توګه، کوم امکانات او اسانتیاوې چې د دغه وزارت له لوري دولتي پوهنتونونو ته برابرېږي، خصوصي هغو ته نه برابرېږي. دغه راز هغه بورسونه چې له بهر څخه د استادانو او محصلینو لپاره راځي، خصوصي پوهنتونونو ته پکې ونډه نه ورکول کېږي. د احمد ذکي په خبره که له خصوصي پوهنتون څخه یو څوک د ماسټر په توګه هم فارغ شي، نه شي کولای چې په کوم دولتي پوهنتون کې د استاد په توګه پر دنده وګومارل شي. دی له لوړو زده کړو وزارت څخه غواړي چې له خصوصي پوهنتونونو سره په هر اړخیزه توګه مرسته وکړي، څو په خپلو پښو ودرېږي او له دولتي پوهنتونونو سره څنګ پر څنګ د هېواد د بچیانو په روزنه کې برخه واخلي.

## اقتصاد

### د اسعارو بيې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۶،۹۵ |
| € | ۹۰،۲۰ |
| Rp. | ۴۷۹ |
| ₹ | ۱۰۴۰ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۱۰۰،۸۰ |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زیږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

همیانی

# مجازی شدن مکاتب چه تأثیری بر کودکان و نوجوانان دارد؟

جاوید فرجام‌نیا

حدود دو ماه است که از شروع سال تحصیلی می‌گذرد؛ اما امسال با سال‌های گذشته تفاوت‌های اساسی دارد. شیوع ویروس کرونا تغییرات زیادی در شیوه آموزش ایجاد کرده است. تغییراتی که هنوز در حال شناخت آنها هستیم. یکی از آنها وضعیت سلامت روان دانش‌آموزانی است که حالا بیشتر زمان تحصیل را در خانه و فضای مجازی سپری می کنند. در این مقاله، جدیدترین یافته محققان درباره تأثیر مجازی شدن مکاتب بر اضطراب دانش‌آموزان را بررسی می کنیم.

گروهی از محققان انگلیسی حدس می‌زدند که مکاتب مجازی و تحصیل از راه دور، باعث افزایش اضطراب در دانش‌آموزان می‌شود. فرضیه آنها بر این استوار بود که بسیاری از دانش‌آموزان نگران ابتلای خود یا اعضای خانواده هستند؛ همچنین تعامل فیزیکی کمتری با دوستان دارند و حمایت عاطفی کمتری هم از آنها دریافت می کنند؛ بنابراین بیشتر دچار اضطراب می‌شوند.

اما وقتی آنها تحقیقات را انجام دادند، فرضیاتشان غلط از آب درآمد. دانش‌آموزان واقعاً کمتر دچار اضطراب شدند. علاوه بر این، آنها احساسات مثبتی هم داشتند مانند شادی بیشتر و ارتباط عاطفی محکم‌تر با مکتب خود.

مطالعه اخیر بخشی از تحقیق است که محققان پوهنتون بریستول درباره ارتباط میان استفاده از شبکه های اجتماعی و سلامت روان نوجوانان انجام داده‌اند.

شرکت کنندگان در این تحقیق‌ها، پیش از شیوع ویروس کرونا هم در تحقیقات شرکت داشتند. برای تعیین تاثیر قرنطینه، از آنها خواسته شد که در تحقیقات اخیر هم شرکت کنند. بیش از هزار دانش‌آموز از ۱۷ مکاتب در این تحقیق شرکت کردند.

۵۴ درصد دانش‌آموزان دختر بین ۱۳ تا ۱۴ ساله پیش از شیوع کرونا و در دوران حضور در مکتب، در معرض تجربه اضطراب بودند؛ اما این میزان در دوران قرنطینه ۱۰ درصد کاهش یافت.

۲۶ درصد پسران در همین گروه سنی در معرض اضطراب بودند که با مجازی شدن آموزش، این میزان به ۱۸ درصد رسید.

در دوران قرنطین، میزان افسردگی بین دانش‌آموزان تقریباً ثابت ماند؛ یعنی دختران فقط ۳ درصد بیشتر دچار افسردگی شدند و پسران فقط ۲ درصد کمتر به افسردگی مبتلا شدند.

بسیاری از نوجوانان گزارش دادند که در دوران قرنطین و مجازی شدن آموزش، احساس بهتری دارند. پسران بیش از دختران چنین حسی داشتند. بیشترین حس رضایت و شادی را نیز کسانی گزارش دادند که پیش از کرونا کمتر از بقیه، این احساسات را داشتند.

همچنین خیلی از دانش‌آموزان اعلام کردند که ارتباط عمیق‌تری با مکاتب‌شان برقرار کرده‌اند و فرصت بیشتری برای تعامل با معلم‌ها دارند.

در بین دختران، افزایش رضایتمندی و کاهش اضطراب ظاهراً ناشی از افزایش استفاده از فضای مجازی است.

مکاتب از این تحقیق چه می‌آموزند؟

امیلی ویندال (Emily Widnall) سرپرست این تحقیق، معتقد است: «در ابتدا ما و بسیاری از کارشناسان سلامت کودک از نتایج این تحقیق تعجب کردیم. اما با تأمل بیشتر، درمی‌یابیم که مکاتب همواره به‌عنوان منبع اضطراب دانش‌آموزان شناخته می‌شوند. قرنطینه و مجازی شدن مکاتب فرصت بی‌نظیری در اختیار ما قرار داده تا درباره تأثیر مکتب بر وضع سلامت روان دانش‌آموزان مطالعه کنیم.»

ویندال با اشاره به بازگشایی مکاتب در دوران کرونا و بازگشت محدود تعدادی از دانش‌آموزان به صنف درس، معتقد است باید تحقیقات بیشتری درباره رابطه حضور در مکتب در دوران پساکرونا و سلامت روان دانش‌آموزان انجام داد. او در این باره می‌گوید: «خیلی مهم است که به‌دقت، سلامت روان و رضایتمندی دانش‌آموزان در بازگشت به مکاتب را زیر نظر بگیریم. به احتمال زیاد، با جهش اضطراب مواجه خواهیم بود، به‌ویژه در بین آنهایی که کمتر با فضای مکتب ارتباط برقرار کرده و با فضای آموزش آنلاین خو گرفته بودند. باید دید چطور می‌توانیم با تغییر فرهنگ حاکم بر فضای مکتب، سطح سلامت روان دانش‌آموزان را ارتقا دهیم.»

او با اشاره به تعداد بالای دانش‌آموزانی که با آموزش آنلاین، ارتباط بهتری برقرار می‌کنند، معتقد است: «شاید فضای مجازی بتواند در دوران پساکرونا و بازگشایی مکاتب، همچنان به‌عنوان بخشی از ابزارهای آموزشی مورد استفاده قرار بگیرد.»

دکتر فرانک گناسی (Frank A. Ghinassi)مدیر مرکز سلامت روان پوهنتون روتگرز است. او عوامل افسردگی و اضطراب بین نوجوانان را برمی‌شمرد: «سوء تغذیه، مشکلات اقتصادی، جابه‌جایی مداوم محل سکونت، اختلافات بین والدین، خشونت خانگی، کمبود اعتماد به نفس، مواجهه با قلدری دیگران در مکتب، انزوای اجتماعی، انتظارات تحصیلی بیش از حد، روابط عاطفی در دوران نوجوانی، بحران هویت و احساس عدم تعلق به جامعه یا خانواده از جمله این عوامل هستند.»

او تأکید می‌کند که ثبات خانه و خانواده، مهم‌ترین عامل برای گذرکردن سالم کودکان و نوجوانان از این مراحل زندگی است. او می‌گوید: «نوجوانان به کسی نیاز دارند که منبع حمایت بی‌قیدوشرط عاطفی باشد: کسی‌که همیشه گوشی برای شنیدن صحبت آنها، بدون قضاوت کردنشان داشته باشد؛ کسی که ارزش آنها را درک کند.»

گناسی پیشنهاد می‌کند والدین عادات خودمراقبتی مانند غذا خوردن، استراحت و ورزش کردن را روزانه انجام دهند و فرزندان خود را هم به این کار تشویق کنند. همچنین آنها می‌توانند با تشویق کودکان و نوجوانان به رعایت دستورالعمل‌های بهداشتی در دوران کرونا (مانند ماسک زدن و حفظ فاصله اجتماعی)، آنها را با شرایط جدید سازگار کنند.

در عین حال ویندال نیز احتمال می‌دهد که کودکان با بازگشت به مکتب دچار چالش‌هایی شوند و والدین باید از این موضوع آگاه شوند. او پیشنهاد می‌کند که والدین حتما با دانش‌آموزان درباره تغییرات رخ‌داده در مکتب حرف بزنند و آنها را برای سازگار شدن با شرایط جدید، یاری کنند.

## سره صلیب کمېټه: افغانستان لاهم د ملکیانو لپاره خطرناک هېواد دی

د سره صلیب نړیواله کمېټه وايي، افغانستان لا هم ملکیانو لپاره د نړۍ خطرناک هېواد دی. یاده کمېټه اندېښنه ښیي چې د افغانستان نیمايي نفوس له جګړو اغېزمن دی.

دغه کمېټه وايي، چې ۱۷ میلیونه افغانان په هغو سیمو کې مېشت دي چې وسله والې نښتې پکې روانې دي.

بلخوا د دغې کمېټې عمومي مشر رابرټ ماردیني له بي بي سي سره په مرکه کې د سولې په خبرو کې د جګړې د کمېدو غوښتنه کړې ده.

هغه زیاتوي: «نن په افغانستان کې د سولې بهیر روان دی، خو په ورته وخت کې موږ د جګړو د شدت شاهدان یو، د ډېرو ملکیانو د مرګ ژوبلې شاهدان یو،



ډېرې ټپیان هغو روغتونونو ته انتقالېږي چې حتا دوی ورته چمتووالی نه لري.»

نوموړي دغه راز د بندیانو د تبادلې، د جګړو له امله د ټپیانو لپاره د اسانتیاوو د زمینې برابرولو او روغتیایي مرکزونو پر ساتنې ټینګار کړی دی.

دا په داسې حال کې ده چې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندوی ماموریت یا یوناما تېره اونۍ په خپل یوه راپور کې ویلي وو چې د روان ۲۰۲۰ز کال په لومړیو نهو میاشتو کې په افغانستان کې ۲،۱۱۷ ملکیان وژل شوي او ۳،۷۲۲ تنه نور ټپیان شوي دي.

تر دې وړاندې د افغانستان د بشري حقونو کمېسیون او د بشري حقونو د څار نړیوال سازمان هم په دغه هېواد د ملکیانو پر مرګ ژوبله اندېښنې ښودلې او ټینګار یې کړی چې د جګړې ښکېلې خواوې دې د جګړو پر مهال د ملکیانو ژوند ته پام وکړي.

نږدې درې اونۍ وړاندې د بشري حقونو د څار نړیوال سازمان د اسیا د برخې مشرې پاتریشا ګاسمن وویل، اړتیا ده چې د مذاکرو ښکېل اړخونه د ملکیانو خوندیتوب او د نامشروع بریدونو بندول، خپل لومړیتوب وټاکې.

که څه هم د قطر په پلازمېنه دوحه کې د افغان دولت او طالبانو د مذاکره کوونکو خبرې د سپټمبر له ۱۲مې راهیسې روانې دي، خو تر دې دمه یې نه یوازې ښکاره پایله نه ده لرلې، بلکې د هېواد په بېلابېلو سیمو کې ورسره جګړو نور هم زور اخیستی دی.

## بهرنیو چارو وزارت: هڅه کوو چې له ډیپلوماټیکو لارو په ایران کې د افغان کډوالو ستونزه حل کړو

د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت وايي، هڅه کوي له ډیپلوماتیکو لارو په ایران کې د ناقانونه افغان کډوالو پر وړاندې د دغه هېواد د نویو ګواښونو لپاره حل لاره ومومي.

د دغه وزارت مرستیال ویاند حامد تهذیب رسنیو ته په یوه استولي پیغام کې ویلي چې په تهران کې د افغانستان سفیر د ایران د پارلمان له مشر سره د ناقانونه کډوالو پر وړاندې د ایران د نوې طرحې په اړه اندېښنې شریکې کړې دي.

تهذیب زیاته کړې: «په دې لیدنه کې په تهران کې د افغانستان سفیر د دې طرحې د تصویب او عملي کېدو په اړه د افغانستان اندېښنې له ایراني لورې



سره شریکې کړې او د دې اندېښنو د مخنیوي په برخه کې یې د لازمې همکارۍ غوښتنه کړې ده.»

دا په داسې حال کې ده چې د ایران د پارلمان د یو شمېر استازو په نوې طرحه کې چې د دغه هېواد د اسلامي شورا مجلس ته یې د تصویب لپاره وړاندې کړې، د ناقانونه کډوالو پر وړاندې سخت محدودیتونه وضع شوي دي.

د راپورونو له مخې، په دې طرحه کې ویل شوي چې هر هغه بهرنی اوسېدونکی چې له اجازې پرته ایران ته داخل شي، یا په دغه هېواد کې مېشت او یا تګ راتګ ولري، ښايي له ۲۵ کلونو زیات بندي شي او هم باید سل میلیونه ایراني تومان نغدي جریمه شي. دغه راز په یاده طرحه کې راغلي چې د شک په صورت کې د ناقانونه اتباعو پر موټر باندې ډزو کولو ته هم پکې اجازه ورکړل شوې ده.

دغې طرحې هغه نږدې اته لکه افغانان چې له رسمي اسنادو پرته په ایران کې اوسېږي، سخت اندېښمن کړي دي. په ورته مهال تهذیب په دې اړه د ایراني لوري د ځواب په تړاو څه نه دي ویلي.

د یادونې چې د ځینو شمېرو له مخې، دا مهال تر یو نیم میلیونو زیات افغانان په ایران کې مېشت دي چې ډېری یې په ناقانونه توګه دغه هېواد ته د کار لپاره تللي دي.

مسیر ورځپاڼه

**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي

**مرستیال:** شفیق امیرزی

**ایډیټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي

**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري

**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان

**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶
۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
if You Can Think it, we Can ink it.
WAYGAL PRINTING CO
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co
waygalprinting.co@gmail.com

یکشنبه د ۱۳۹۹ د لیندۍ نهمه | د ۲۰۲۰ د نومبر ۲۹مه | ٦۳٦مه ګڼه

www.Maseerdaily.af | twitter/MaseerDaily | Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۲ | ۱٥ | ۲۰ | ۱۲ | ۲۲ | ۱٥ |
| ۰ | ٤ | ٦ | ۱ | ۷ | ٤ |

شرعي وختونه: سهار ۰٥:۱۲ | لمر ختل ۰٦:۳۹ | ماسپښین ۱۱:٤۲ | مازیګر ۰۲:۲٥ | ماښام ۰٤:٤٤ | ماخوستن ۰٦:۱۳

## نړۍ




اسراییل ته د ایران خبرداری؛

## خامنه‌يي: ډېر ژر به د ساینسپوه فخري زاده د وژلو غچ واخیستل شي

۲

## تازه شمېرې: په نړۍ کې پر کرونا ویروس د اخته کسانو شمېر له ٦۲ میلیونو واوښتو



د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې ٦۲ میلیونه او ۱۲۰ زره او ۳۳۲ ته رسېدلې دي. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله یو میلیون او ٤٥۱ زره او ۸۷۸ کسان مړه شوي او نږدې ٤۳ میلیونه ترې ببرته رغېدلي دي.

د دغو شمېرو پر اساس، د امریکا متحده ایالتونه د کرونا ویروس له کبله د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو له مخې، په امریکا کې د دغه ویروس ټولې ۱۳ میلیونه او ٤٥٤ زره او ۳٤٦ مثبتې پېښې ثبت شوي او ۲۷۱ زره او ۲۹ نور امریکایان ترې مړه شوي دي.

له امریکا وروسته هند د نهه میلیونه او ۳٥٤ زره او ٤۲٦ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، برازیل د شپږ میلیونه او ۲۳۸ زره او ۳٥۰ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ دریم، روسیه د دوه میلیونه او ۲٤۲ زره او ٦۳۳ مثبتو پېښو له کبله د نړۍ څلورم او فرانسه د دوه میلیونه او ۱۹٦ زره او ۱۱۹ مثبتو پېښو له کبله د نړۍ پنځم هغه هېواد دی چې د کرونا ویروس ډېرې پېښې پکې ثبت شوې دي.

دغه راز هسپانیا، برېټانیا، ایټالیا، ارجنټاین او کولمبیا په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا له کبله ډېر ځپل شوي دي.

## راپورونه: په عراق کې د تازه نښتو له کبله لسګونو کسانو ته مرګ ژوبله اوښتې

د راپورونو له مخې، په عراق کې د شیعه ګانو د مشر مقتدا صدر پلویانو د حکومت د مخالفینو په یوه کمپ برید کړی، درې تنه یې وژلي او لسګونه نور یې ټپیان کړي دي.

دا په داسې حال کې ده چې د حکومت مخالفینو په جنوبي ښار ناصریه کې دا کمپ جوړ کړی و.

د دې پېښې عیني شاهدانو او روغتیاپالانو د خلکو د وژنې او ټپي کېدو معلومات رسنیو ته ورکړي دي.

د شیعه ګانو د مشر مقتدا صدر پلویان د الحبوبي مرکزي میدان پر لور ورغلي او دغو کسانو ته یې مرګ ژوبله اړولې ده. په دغه ځای کې د حکومت مخالف لاریونوال له اکتوبر راهیسې پرلت او لاریون کوي. د پېښې شاهدانو ویلي چې د صدر پلویانو د لاریونوالو په خیمو ډزې کړې او پټرولي بمونه یې ور غورځولي او یاده مرګ ژوبله یې اړولې ده. په ورته وخت کې روغتیاپالانو ویلي چې د پېښې ډېری ټپیان په مرمیو لګېدلي دي. مقتدا صدر چې د عراق په پارلمان کې تر ټولو لویه ډله رهبري کوي، تمه لري چې د دغه هېواد له وخت مخکې پارلماني ټاکنو کې مطلق اکثریت خپل کړي. دی پر دې سربېره چې له امریکا سره له ډېره وخت مخالفت پالي، په عراق کې د ایران له نفوذ سره هم جوړ نه دی.

## چین: جنایت‌های جنگی سربازان آسترالیایی در افغانستان تکان دهنده است




وزارت خارجه چین با نکوهش جنایت‌های جنگی سربازان آسترالیایی در افغانستان، بر پیگرد عاملان این جنایت‌ها تأکید کرد.

ژائو لی جیان، سخن‌گوی وزارت خارجه چین در یک نشست خبری گفت که بیجینگ از جزئیات گزارش ارتش آسترالیا دربارۀ این جنایت‌ها تکان خورده‌است و آنها را ناقض قوانین جهانی و احساسات انسانی می‌داند.

او افزود که نیروهای آسترالیایی در حالی مرتکب این جنایت‌ها شده‌اند که کشورهای غربی همواره خودشان را حامیان حقوق بشر می‌دانند.

این در حالیست که یک گزارش وزارت دفاع آسترالیا نشان می‌دهد که نیروهای این کشور، میان سال‌های ۲۰۰۵ تا ۲۰۱٦ میلادی، نیروهای ویژه این کشور در افغانستان کم از کم ۳۹ زندانی، کشاورز و غیرنظامی افغان را به‌شمول کودکان کشته‌اند.


سیزده تن از سربازان آسترآلیایی که گمان می‌رود گواهان و همکاران متهمان اصلی جنایت‌های جنگی و کشتار غیرنظامیان در افغانستان باشند با برکناری رو به‌رو استند. ریک بور رئیس ارتش آسترالیا گفته است که به این سربازان هشدار داده شده‌است که تا چهارده روز دربارۀ این اتهام‌ها، پاسخ بدهند و گرنه برکنار خواهند شد.

او افزوده است: «ما همگی مان همچون یک سازمان، پاسخگو استیم و این کار را به‌گونۀ مناسب به پیش خواهیم برد. از همین‌رو خواهان تهیۀ گزارشی در این باره شدیم.»

نهادهای حقوق بشری در افغانستان گفتند که حکومت افغانستان و آسترالیا باید عدالت را به قربانیان جنایت‌های جنگی در افغانستان، تأمین کنند.

## ژوند


## موټرولا ای۷ پلس ارزان بیه موبایل وړاندې کړ



موټرولا موټو ای۷ نومي ځیرک موبایل چې موده وړاندې یې پیاوړې بڼه موټو ای۷ پلس، خرڅلاو ته وړاندې شوې وه، تازه یې نوې ارزان بیه بڼه معرفي کړې. که څه هم دغه دواړه ځیرک موبایلونه تر ډېره سره ورته دي، خو د موټو ای۷ بیه ډېره ټیټه ده. دغه ځیرک موبایلونه په پروسېسر او د بېټرۍ په وړتیا کې سره توپیر لري. موټو ای۷ کې د مېډیاټېک کمپنۍ هېلیو جي۲٥ ډوله پروسېسر کارول شوی دی. په داسې حال کې چې موټو ای۷ پلس کې د کوالکام کمپنۍ سنپ ډراګن ٤٦۰ ډوله پروسېسر کارول شوی و. موټو ای۷ کې دوه ګیګابایټ رم او ۳۲ ګیګابایټ د فایل ثبتونې وړتیا او ٤۰۰۰ ملي امپیره وړتیا لرونکې بېټرۍ ورکړل شوې ده، چې له ۱۰ واټ چټک چارج څخه هم ملاتړ کوي. د موټ ای۷ پلس بېټرۍ ٥۰۰۰ ملي امپیره وه. دغه ځیرک موبایل ٦٫٥ انچه اېل سي ډي ډوله مخ‌پاڼه لري. دغه ځیرک موبایل به په پیل کې اروپا کې خرڅلاو ته وړاندې شي او بیه یې ۱٥۰ یورو ټاکل شوې ده.

## که پر شکرې ناروغۍ اخته وی، خوږې مېوې خوړلی شي

له خلکو سره داسې یو تصور دی چې پر شکرې ناروغۍ اخته کسان باید مېوې ونه خوري، ځکه داسې ویل کیږي چې د مېوو شکر یا ګلوکوز په بدن کې د تصفیه شوي شکر په څېر عمل کوي، نو ځکه باید ونه خوړل شي. خو د تغذیې د برخې متخصصین داسې اشخاصو ته د مېوو خوړل ګټور بولي. دا سمه ده چې ټول هغه کاربوهایډریټ چې د خوراکي موادو له لارې تر لاسه کېږي، بالاخره د وینې په ګلوکوز بدلېږي چې په دې کې د مېوو کاربوهایډریټ هم شامل دي. څېړنې وایي چې مېوې د وینې پر شکر ډېر لږ اغېز کوي؛ ځکه مېوې هم د سبزیو په څېر عمده ډول د ویټامینونو، معدني موادو او انټي اکسیدان پرته له اوبو او فایبر جوړې شوې دي او فایبر په وینه کې د شکر د ډېرېدو پروسه ورو کوي. بل مهم ټکی د مېوو په استعمال کې دی. هغه مېوې چې په یوه واحد کې یې د کلسیمو کچه له ٥٥ ښکته وي، پر شکرې ناروغۍ د اخته کسانو لپاره مضرې نه دي.



عزیزي بانک
Azizi Bank

د ازي پې (AZIPAY) پرمختللې بڼه

عزیزي بانک خپلې د ازي پې بتوې ته پراختیا ورکړې چې تاسو ته پراخ خدمتونه او ګټې لکه: بایومتریک ننوتل-د ګوتې او مخ پېژندنې له لارې، څو ژبې (پښتو، دري او انګلیسي) کارول، د ډالرو کارونه، د صورت حساب او کوچنۍ ستېټمنټ لیدل، د صرافۍ خپلکاره ماشین څخه د ازي پې پرمټ د کارت پرته پیسې وېستل، د مبایل شمېرې ته پیسو استول او د د صرافۍ خپلکاره څخه یې ماشین ترلاسه کول، د مبایل شمېرې ته کریډېټ زیاتول، د بل اداینه او نورې برخې وړاندې کوي

مهرباني وکړئ نوې بڼه یې له اپستور او پلې ستور څخه ډونلوډ (ښکته) کړئ، د لازیاتو معلوماتو لپاره 1515 شمېرې سره اړیکه ټینګه کړئ.

www.azizibank.af
1515

